# هغه گناهونه

## چې د لعنت سبب گرځي

**ليکوال:**

## لقمان حکيم حکمت

هيواد والو د ديني پوهاوى باورې سرچينه

Www.larkhud.com

لارښود کتابتون

## پیلیزه

لعنت د الله پاک له رحمت فضل او احسان څخه لرې وتلو ته ویل کیږي چې انسان یې بیخي مستحق نه شي ګرځېدای، له دې کبله په اسلامي شریعت کې کامله نهیه راغلې ده چې مسلمان به یو بل لا څه چې پر حیواناتو به هم لعنت نه وایي، دا چې په انسان کې که ژبه هر څومره په کم او کیف کې کوچنۍ ده خو د خیر او شر په کارونو کې د سر ځای هم دا ژبه ده، ژبه له انسان د انسان د قدر او قیمت، د هغه د ارزښت او حتی د تیتوالي ترجماني کوي، هم پرې ترقي کوي او هم پرې ښکته راځړېږي، د ژبې له لاسه انسان کرامتونه تر لاسه کولای شي او د ژبې له لارې سپکیږي، د ژبې له لارې ښایسته او د ژبې له لارې بد رنګیږي، د ژبې له لاسه انسان په خلکو کې محبوبیت او یا بغض او کینه په خپلې جولۍ کې اچوي.

دا چې اسلام له اور او د الله پاک له غضب څخه ایکي یواځنۍ لاره ده او بدیل نه لري نو لازمه ده چې انسان په خپله د خپل دین او اسلام څوکۍ وکړي او د خوږ لاس په خبر یې په پرهیز کې وساتي.

له دې کبله بلها داسې کارونه شته چې له عقیدې سره داسې تینګې ریښې لري که انسان وریکې له لاوبالیت او بې غورۍ څخه کار واخلي نو لعنتي کیږي او هغه اسلام به له لاسه ورکړي چې دا پرې له جهنم او الهي عذابونو څخه د

بچاو طمع او توقع لري، په دې کوچني کتابګي کې مو هغه کارونه راغونډ کړي دي چې انسان پرې د لعنت ښکار کيږي په دې خاطر چې نوم مسلمان يې وپېژني او ځان ترې وساتي او خپل اسلام خوندي کړي.

الله رب العلمين دې زمونږ د دين او اسلام ، زمونږ د ځانونو او زړونو حافظ او ناصر شي. امين يا رب العلمين.

لقمان حکيم حکمت

Hekmat0344@gmail.com

۲۵ / شوال / ۱۴۴۱ هـ

17 / 6 / 2020م

لاربنود کتابتون

په تفصيل سره د هغو ګناهونو ذکر چې سزا يې لعنت ده.

١ - : کفر، الله پاک فرمايي: [وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَلْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَا يُؤْمِنُونَ ] ( سورت بقره: 88 ).

ژباړه: دوی ویل: زمونږ زړونه پرده بَند دي، (داسې نه ده) بلکې د دوی د کفر په سبب الله پر دوی لعنت کړی دی، نو هغه (خلق) چې ایمان راوړی ډېر لږ دي

2 - : [فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ فَلَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْكَافِرِينَ] ( سورت بقره: ٨٩ ).

ژباړه: نو کله چې دوی ته هغه (رسول، کتاب) راغی چې دوی پيژنده، نو په هغه باندې کافر شول، نو په کافرانو باندې د الله لعنت دی

٣ - : هغه ديني علماء چې د الله پاک دين پټوي: الله پاک فرمايي: [إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ] ( سورت بقره: ١٥٩ ).

ژباړه: يقينًا کوم خلق چې هغه څه پټوي چې مونږ نازل کړي دي، چې هدايت او ښکاره دليلونه دي، له دې نه پس چې مونږ هغه په کتاب کې خلقو ته بيان کړي دي، دغه خلق (چې دي)، الله په دوی لعنت کوي اولعنت ويونکي په دوی لعنت وايي

لاربښود کتابتون

۴ - : په کفر باندې تر مرګ پورې پاتې کېدل: الله پاک فرمايي: [إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ] ( سورت بقره: ۱۶۱ ).

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې کفر يې کړی دی او په داسې حال کې مړه شول چې کافران وو، (نو) دغه کسان، په دوی باندې د الله لعنت دی او د ملايکو او د خلقو ټولو (لعنت دی)

۵ - : قصداً عمداً ديني احکام دروغجن ګڼل:، الله پاک فرمايي: [فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ ] ( سورت ال عمران: ۶۱ ).

ژباړه: نو څوک چې د ده (عيسٰی) په باره کې له تا سره جګړه کوي، وروسته له دې چې تا ته علم حاصل شو، نو ته ووايه: راځئ! چې مونږ راوبلو خپل زامن او ستاسو زامن او خپلې ښځې او ستاسو ښځې او خپل ځانونه او ستاسو ځانونه، بيا به په زارۍ سره دعا وکړو، نو په دروغژنو به د الله لعنت وواېو

۶ - : له ايمان راوړلو وروسته بېرته کفر کول: الله پاک فرمايي: [كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ وَجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (-) أُولَئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ] ( سورت ال عمران: ۸۶ – ۸۷ ).

لارښود کتابتون

ژباړه: الله به داسې قوم څنګه په سمه لار روان کړي چې له خپل ایمان راوړو نه بعد (بیا) کافر شول، حال دا چې دوی ګواهي ورکړې وه چې بېشکه دا رسول حق دی او دوی ته ښکاره معجزې (هم) راغلي وې او الله (داسې) ظالمو خلقو ته سمه لار نه ښيي (-) دغه خلق، د دوی جزا دا ده چې یقینًا په دوی باندې د الله لعنت دی او د ملایکو او د خلقو، د ټولو (لعنت دی)

۷ - : د الله پاک په کلام کې تحریف کول: الله پاک فرمايي: [مِنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَكِنْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ] ( سورت نساء: ۴۶ ).

ژباړه: او ځیني له هغو کسانو نه چې یهودیان دي، هغوی له خپلو ځایونو نه کلمې بدلوي او هغوی وايي: سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا مونږ واورېدل او مونږ نافرماني وکړه۔" وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ "او ته واوره، چې ته اورول شوی نه یې" اورَاعِنَا زمونږ رعایت وکړه د خپلو ژبو په تاوولو سره او په دین کې د طعن (او عیب) راوښکلو لپاره، او یقینًا که دوی ویلي وی (چې) سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا "مونږ واورېدل او اطاعت مو وکړ"، او اِسْمَعْ "واوره"، وَانْظُرْنَا "او مونږ ته وګوره"، نو دا (کلام) به د هغوی لپاره ډېر غوره او ډېر درست ساتونکی و او لېکن الله د دوی د کفر په سبب په دوی لعنت کړی دی، نو دوی ایمان نه راوړي مګر ډېر لږ (خلق)

لارښود کتابتون

۸ - : په انسي او جني شیطانانو او طاغوت باندې ایمان لرل، الله پاک فرمایي: [أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَؤُلَاءِ أَهْدَى مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا (-) أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ وَمَنْ يَلْعَنِ اللَّهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا ] ( سورت نساء: ۵۱ – ۵۲ ).

ژباړه: ایا تا هغو کسانو ته نه دي کتلي چې هغوی ته یوه برخه له کتابه ورکړی شوې وه، چې هغوی (اوس) په بت او په شیطان (هم) ایمان راوړي او د کافر شوو کسانو (مشرکانو) په باره کې وایي: دا (کفار) له مومنانو نه زیات، سمه لارموندونکي دي (-) دا هغه کسان دي چې الله په دوی لعنت کړی دی او په چا باندې چې الله لعنت وکړي، نو ته به کله هم د هغه لپاره مدد کوونکی ونه ومومې .

۹ - : قصداً عمداً مسلمان وژل: الله پاک فرمایي: [وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ] ( سورت نساء: ۹۳ ).

ژباړه: او هغه څوک چې مومن په قصد (او ارادې) سره قتل کړي، نو د هغه سزا جهنم دی، چې همېشه به په هغه کې وي او الله په ده باندې غضب کړی دی او په ده یې لعنت کړی دی او د ده لپاره یې ډېر لوی عذاب تیار کړی دی.

۱۰ - : ژمنې او لوظونه ماتول: الله پاک فرمایي: [فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً ] ( سورت مائده: ۱۳ )

لاربود کتابتون

ژباړه: نو د خپلې کلکې وعدې د ماتولو په سبب مونږ په دوی لعنت وکړ او مونږ د دوی زړونه سخت کړل.

۱۱ - : ظلم او تیری کول، نهی عن المنکر نه کول: الله پاک فرمایي: [لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ (-) كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ] ( سورت مائده: ۷۸ – ۷۹ ).

ژباړه: په هغو کسانو باندې، چې په بني اسرائیلو کې کافر شوي دي، لعنت شوی دی د داود او د مریمې زوی عیسٰی په ژبه، دا ځکه چې دوی نافرماني وکړه او دوی له حد نه تېرېدل ( - ) دوی به له هغه ناروا کار نه یو بل نه منع کول چې دوی به هغه کاوه، خامخا بد دی هغه (کار) چې دوی به کاوه .

۱۲ - : له نفس سره په کفر او شرک ظلم کول، الله پاک فرمایي: [وَنَادَى أَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابَ النَّارِ أَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا قَالُوا نَعَمْ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ] ( سورت أعراف: ۴۴ ).

ژباړه: او جنتیان به دوزخیانو ته اواز وکړي دا چې یقینًا مونږ هغه وعده چې زمونږ رب له مونږ سره کړې وه حقه موندله، نو ایا تاسو (هم) هغه وعده حقه موندله چې ستاسو رب (له تاسو سره) کړې وه؟ هغوی به ووایي: هو! نو

لاربشود خپرندوی

د دوی په مینځ کې به یو اعلان کوونکی دا اعلان وکړي چې د الله لعنت په ظالمانو باندې دی.
او الله پاک فرمايي: [يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ ] ( سورت غافر: 52 ).
ژباړه: په هغې ورځې کې چې ظالمانو (مشرکانو) ته به د هغوی معذرت هېڅ نفع نه رسوي او د همدوی لپاره لعنت دی او د همدوی لپاره بد کور (دوزخ) دی.
او الله پاک فرمايي: [فَيَوْمَئِذٍ لَا يَنْفَعُ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ] ( سورت روم: ٥٧ ).
ژباړه: نو په دغې ورځ به هغو کسانو ته چې ظلم (شرك) يې کړی دی، د هغوی عذر فايده نه رسوي او نه به له دوی نه د معذرت کولو (او توبه اېستلو) غوښتنه کېږي
١٣ - : هغه خلک چې د الله لوظونه ماتوي، خپلولي نه پالي او په ځمکه کې فساد کوي، الله پاک فرمايي: [وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ ] ( سورت رعد: ٢٥ ).
ژباړه: او هغه کسان چې د الله عهد ماتوي د هغه (عهد) له پخولو نه وروسته۔ او هغه څه پرېکوي چې الله د هغه د ميلاوولو حکم کړی دی او په ځمکه کې

لاړ شو د کتابتون

فساد کوي، هم دغه کسان چې دي د دوی لپاره لعنت دی او هم د دوی لپاره د اخرت بدي ده .

او الله پاک فرمايي: [فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ (-) أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ ] ( سورت محمد: ۲۲ -۲۳ ).

ژباړه: نو ایا تاسو، که چېرې حاکمان شئ، دې ته نژدې یئ چې تاسو به په ځمکه کې فساد وکړئ او خپل قرابتونه (خپلوياني) به پرې کړئ ( - ) دا هغه کسان دي چې الله په دوی لعنت کړی دی، نو دوی يې کاڼه کړي دي او د دوی سترګې يې ړندې کړې دي

۱۴ - : په پاک دامنو مومنانو ښځو باندې تور پورې کول: الله پاک فرمايي: [إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ] ( سورت نور: ۲۳ ).

ژباړه: په يقين سره چې کوم خلک پاک دامنې او ناخبره مومنانې ښځې په بهتان سره ولي ( تورنوي ) نو په دنيا او اخرت کې پرې لعنت ويل شوی دی او د دوی لپاره لوی عذاب دی.

۱۵ - : څوک چې الله پاک ته په شرک او رسول ته يې په قول او فعل سره اذيت ورکوي، الله پاک فرمايي: [إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا ] ( سورت أحزاب: 57 ).

ژباړه: په يقين سره هغه خلک چې الله پاک او رسول ته يې قولي او فعلي زيان رسول غواړي، نو په دنيا او اخرت کې الله لعنت ويلی دی او د دوی لپاره به سپکونکی عذاب وي.

16 - : جمله کافران، الله پاک فرمايي: [إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا (-) خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ] ( سورت أحزاب: ۶۴ – ۶۵ ).

ژباړه: په يقين سره چې الله پاک په ټولو کافرانو باندې لعنت ويلی دی او سوځونکی عذاب يې ورله تيار کړی دی ( - ) دوی به په دغه عذاب کې د تل لپاره وي چې نه به کوم کارساز ذمه وار او نه به کوم مرستندويه مونده کړی شي.

۱۷ - : خالونه لګول، وروځې نری کول، غاښونه کې کولاو والی راوستل: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي: [ لَعَنَ اللَّهُ الوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ، وَالْمُتَنَمِّصَاتِ، وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ، الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ تَعَالَى» مَالِي لاَ أَلْعَنُ مَنْ

لاربود خپرندوی

لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ فِي كِتَابِ اللَّهِ ] ( صحيح البخاري: ۵۹۳۱، صحيح مسلم: ۲۱۲۵ ).

ژباړه: په خال لګونکي او خال غوښتونکي زنانه، په هغه زنانه چې له وروزو نه ويښتان اوباسي، په هغه زنانه چې غاښونه د ښايست په خاطر کولاو وي او د الله پاک خلقت ته تغير ورکوي د الله لعنت دې وربانديې وي، زه به ولې په هغه چا لعنت نه وايم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وربانديې لعنت ويلى دى، حالانکه دا د الله پاک کتاب ( قران ) کې وجود لري.

۱۸ - : جعلي ويښتان لګونکي ښځه لعنتى ده:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَعَنَ اللَّهُ الوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ، وَالوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ ] ( صحيح البخاري : ۵۹۳۷، صحيح مسلم: ۲۱۲۴ ).

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ويښتان لګونکي زنانه او هغه ښځه ويښته لګول غواړي، خال لګونکي او هغه زنانه چې خال لګول غواړي الله پريې لعنت کړى دى.

۱۹ - : سړيو له ښځو او د ښځو له سړيو سره مشابهت:

لاربنود کتابتون

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ ] ( صحيح البخاري: ٥٨٨٥).

ژباړه: له عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم لعنت ويلی دی په هغه سړيو باندې چې له ښځو سره مشابهت کوي او هغه ښځې چې له سړيو سره مشابهت کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ، وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ ] ( سنن أبي داود: ٤٠٩٨).

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه سړي لعنت ويلی دی چې د ښځو کالي ( جامې ) اغوندي او په هغه ښځه يې لعنت ويلی دی چې د سړي کالي جامې اغوندي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ، وَالمُتَرَجِّلاَتِ مِنَ النِّسَاءِ ] ( سنن أبي داود: ٥٨٨٦).

لاربنود ځانګړتيا

ژباړه: له عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم لعنت ويلی دی په هغو سړيو چې له ښځو سره ځان يو شان کوي او په هغو ښځو چې د سړيو سره ځان يو شان کوي.

۲۰ - : سود خور لعنتي انسان دی:

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ، وَكَاتِبَهُ، وَشَاهِدَيْهِ»، وَقَالَ: «هُمْ سَوَاءٌ ] ( صحيح مسلم: ۱۵۹۸ ).

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم لعنت ويلی دی په سود خور باندې، د سود ورکونکي باندې، د سود په ليکونکي او ګواه باندې، او ويويل: ټول په ګناه کې يو شان دي.

۲۱ - : غلاجن انسان هم لعنتي دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ لَعَنَ اللَّهُ السَّارِقَ، يَسْرِقُ البَيْضَةَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ، وَيَسْرِقُ الحَبْلَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ ] ( صحيح البخاري: ۶۷۸۳، صحيح مسلم: ۱۶۸۷).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: په غلاجن دې د الله لعنت وي چې يوه انډه ( اګی، ها ) پټه کړي او لاس يې پکې غوخ شي، يا يوه رسی ( پړی ) پټ کړي او لاس يې په کې غوخ شي.

لاربښود کتابتون

۲۲ - : په حیواناتو غوړبوچی کول:

عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَال:[لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَثَّلَ بِالحَيَوَانِ ] ( صحیح البخاري: ۵۵۱۵ ).

ژباړه: له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم په هغه چا لعنت ویلی دی چې په حیوان غوړ بوچی ( مثله ) کوي.

۲۳ - : د غیر الله لپاره ذبح کول:

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: قُلْنَا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَخْبِرْنَا بِشَيْءٍ أَسَرَّهُ إِلَيْكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَا أَسَرَّ إِلَيَّ شَيْئًا كَتَمَهُ النَّاسَ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ: «لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ] ( صحیح مسلم: 1978).

ژباړه: ابوطفیل وايي: مونږ علي رضي الله عنه ته وویل: مونږ ته هغه څه راوښایه چې تا ته نبي کریم صلی الله علیه وسلم پټ در زده کړي وي، هغه وویل: ما ته يې هغه څه پټ نه دي ښودلي چې له خلکو يې پناه ساتل، ما ترې اوریدلي ویل يې: په هغه چا دي د الله لعنت وي چې د غیر الله لپاره ذبح کوي.

۲۴ - : مبتدعینو ته پناه ورکول لعنتي کار دی:

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: قُلْنَا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَخْبِرْنَا بِشَيْءٍ أَسَرَّهُ إِلَيْكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَا أَسَرَّ إِلَيَّ شَيْئًا كَتَمَهُ النَّاسَ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ[... وَلَعَنَ اللهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا] ( صحيح مسلم: 1978).

ژباړه: ابوطفيل وايي: مونږ علي رضي الله عنه ته وويل: مونږ ته هغه څه راوښايه چې تا ته نبي كريم صلى الله عليه وسلم پټ در زده كړي وي، هغه وويل: ما ته يې هغه څه پټ نه دي ښودلي چې له خلكو يې پناه ساتل، ما ترې اوريدلي ويل يې: په هغه چا دې د الله لعنت وي چې بدعتي ته ځاى ( پناه ) وركوي.

٢٥ - : مور او پلار ته كنځاوې كول لعنتي كار دى:

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: قُلْنَا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَخْبِرْنَا بِشَيْءٍ أَسَرَّهُ إِلَيْكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَا أَسَرَّ إِلَيَّ شَيْئًا كَتَمَهُ النَّاسَ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ [ .... وَلَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَيْهِ] ( صحيح مسلم: 1978).

ژباړه: ابوطفيل وايي: مونږ علي رضي الله عنه ته وويل: مونږ ته هغه څه راوښايه چې تا ته نبي كريم صلى الله عليه وسلم پټ در زده كړي وي، هغه وويل: ما ته يې هغه څه پټ نه دي ښودلي چې له خلكو يې پناه ساتل، ما ترې اوريدلي ويل يې: په هغه چا دې د الله لعنت وي چې مور او پلار ته كنځلې كوي.

٢٦ - : د ځمكې بريدونه ( حدود ) بدلول لعنتي كار دى:

لاربنود كتابتون

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: قُلْنَا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَخْبِرْنَا بِشَيْءٍ أَسَرَّهُ إِلَيْكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَا أَسَرَّ إِلَيَّ شَيْئًا كَتَمَهُ النَّاسَ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ [ ... وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غَيَّرَ الْمَنَارَ ] ( صحيح مسلم: 1978).

ژباړه: ابوطفيل وايي: مونږ علي رضي الله عنه ته ووېل: مونږ ته هغه څه راوښايه چې تا ته نبي كريم صلى الله عليه وسلم پټ در زده كړي وي، هغه ووېل: ما ته يې هغه څه پټ نه دي ښودلي چې له خلكو يې پناه ساتل، ما ترې اوريدلي ويل يې: په هغه چا دې د الله لعنت وي چې د ځمكې پولې ( حدود ) بدلوي.

عنِ ابْنِ عبَّاس رضي الله عنهما عنِ النبيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قال:[ ...وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غيَّرَ تُخُوْمَ الأرضِ] صحيح الجامع الصغير: 5891).

ژباړه له عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: او الله پاک په هغه چا لعنت وايي چې د ځمكې بريدونه ( حدود او پولې ) بدلوي.

۲۷ - : له قبرونو نه مسجدونه جوړول لعنتي كار دی:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي لَمْ يَقُمْ مِنْهُ: [ لَعَنَ اللَّهُ اليَهُودَ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ ] ( صحيح البخاري: ۱۳۹۰ ، صحيح مسلم: ۵۲۹ ).

لاربود كتابتون

ژباړه: له عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه مرض په جریان کې وفرمایل چې بېرته ورنه راپورته نه شو: په یهودانو او نصرانیانو دې د الله پاک لعنت وي چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې په مسجدونو ونیول.

۲۸ - : د حیواناتو په مخ باندې داغونه لګول:

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ: [ لَعَنَ اللهُ الَّذِي وَسَمَهُ ] ( صحیح مسلم: ۲۱۱۷ ).

ژباړه: له جابر رضي ا لله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم په یو خر باندې تېر شو چې په مخ ورته داغونه ورکړل شوي و، ویې فرمایل: په هغه چا دې د الله لعنت وي چې په دې یې داغونه لګولي دي.

۲۹ - : له ژوندي حیوان نه نخښه جوړول:

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: مَرَّ ابْنُ عُمَرَ بِفِتْيَانٍ مِنْ قُرَيْشٍ قَدْ نَصَبُوا طَيْرًا، وَهُمْ يَرْمُونَهُ، وَقَدْ جَعَلُوا لِصَاحِبِ الطَّيْرِ كُلَّ خَاطِئَةٍ مِنْ نَبْلِهِمْ، فَلَمَّا رَأَوْا ابْنَ عُمَرَ تَفَرَّقُوا، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: «مَنْ فَعَلَ هَذَا لَعَنِ اللهُ، مَنْ فَعَلَ هَذَا؟ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا ] ( صحیح مسلم: ۱۹۵۸).

لاربښود کتابتون

ژباړه: سعید بن جبیر وایي: عبدالله بن عمر رضي الله عنه د قریشو په هلکانو باندې په داسې حالت کې تېرېده چې دوی له مرغۍ څخه نخښه جوړه کړې وه او ویشتله یې، او د هر خطا ګوزار په بدل کې به یې د مرغۍ والا ته یو څه ورکول، کله چې یې ابن عمر رضي الله عنه ولید وتختیدل، ابن عمر رضي الله عنه وویل: الله دې پرې لعنت وکړي دا کار چا کړی دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه چا باندې لعنت ویلی دی چې روح دار شیان په نخښې سره ونیسي.

۳۰ - : په مدینه کې بدعتونه کول او یا بدعتیانو ته پناه ورکول:
عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [ مَا كَتَبْنَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا القُرْآنَ وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: المَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى كَذَا، فَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلاَ صَرْفٌ، وَذِمَّةُ المُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ، وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ ] (صحيح البخاري: ۳۱۷۹)

لاربنود کتابتون

ژباړه: علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي : مونږ د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له قران او په دې کتاب کې بغېر نور څه نه دي ليکلي ، نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د عائر له غر څخه تر دومره پورې مدينه هم حرامه ده ، څوک چې په کې بدعتونه وکړي اويا مبتدعينو ته ځاى ورکړي په هغوى دې د الله ، د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي ، هېڅ فرضي او نفلي عبادتونه به ترې قبول نه شي ، د مسلمانانو ذمه يوه ده ولو که ادنى مسلمان هم وي ، څوک چې د مسلمان ذمه ماته کړي په هغه د الله او ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي ، هېڅ فرضي او نفلي عبادتونه به ترې قبول نه شي ، د بادارانو له اجازې پرته چې څوک د بل قوم سره مينه او محبت ولري په هغه دې د الله ، د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي ، هېڅ فرضي او نفلي لمونځ به ترې قبول نه شي .

٣١ - : د ساکښو شيانو تصويران ويستل:

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الوَاشِمَةَ وَالمُسْتَوْشِمَةَ، وَآكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ، وَنَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ، وَكَسْبِ البَغِيِّ، وَلَعَنَ المُصَوِّرِينَ ] ( صحيح البخاري: صحيح البخاري: 5347).

ژباړه: له ابوجحيفه رضي الله عنه نه روايت دى فرمايي: په خال لګونکي زنانه او د خال غوښتونکي زنانه باندې نبي کريم صلى الله عليه وسلم لعنت ويلى دى، په سود خور، سود ورکونکي باندې يې هم لعنت ويلى دى، او د سپي له نرخ، د

لاربښود کتابتون

زناکارۍ عوض نه يې هم منعه کړې ده، او څوک چې تصويران اوباسي نو په هغوی يې هم لعنت ويلی دی.

32 - : د مسلمان ورکړلې ذمه ماتول لعنتي کار دی:
عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : [ ذِمَّةُ المُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ، وَلاَ عَدْلٌ] ( صحيح البخاري: ٣١٧٩).
ژباړه: له علي رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: د ټول مسلمانانو ذمه (امان ورکول) يو شی دی، که څوک د مسلمان ذمه ماته کړي نو دالله پاک او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنتونه وي، هيڅ فرضي او نفلي عبادتونه به تري قبول نه شي.

33 - : د بادار له اجازې پرته له چا سره مينه کول لعنتي کار دی:
عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ وَمَنْ تَوَلَّى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ، وَلاَ عَدْلٌ ] ( صحيح البخاري: ٣١٧٩).
ژباړه: له علي رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: که څوک د خپلو بادارانو له اجازې پرته له کوم قوم سره دوستانه

(مينه) وپالي نو په هغه دې د الله پاک او د ټولو ملائکو او خلکو لعنتونه وي، هيڅ نفلي او فرضي عبادت به ورڅخه قبول نه شي.

34 - : بل چا ته پلار يا بادار ويل:

عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [وَمَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ، أَوِ انْتَمَى إِلَى غَيْرِ مَوَالِيه، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَا يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا، وَلَا عَدْلًا ]

ژباړه: له علي رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: که څوک د خپل پلار يا بادار نه بغير بل چا ته پلار يا بادار ووايي ځان ورته منسوب کړي نو په هغه دې دالله او ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي د قيامت په ورځ به ترې الله پاک هيڅ فرضي او نفلي عبادت قبول نه کړي. ( صحيح مسلم: 1370 ).

35 - : په بستره کې له خاوند څخه نافرمانه ښځه:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ مُهَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا، لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تَرْجِعَ] ( صحيح البخارى:5194، صحيح مسلم: ۱۴۳۶ ).

لاربود کتابتون

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی ا لله علیه وسلم فرمایي: کله چې ښځه په داسې حالت کې شپه تېره کړي چې له خاوند څخه یې بستره – په نارضایۍ کې – پرېښې وي نو تر هغه پرې ملائک لعنت وایي چې بسترې ته راغلې نه وي.

۳۶ - : په مسلمان باندې اسلحه یا تیره څه شی پورته کول:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَلْعَنُهُ، حَتَّى يَدَعَهُ وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ ] ( صحيح مسلم: ۲۶۱۶ ).

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې ابوالقاسم صلی ا لله علیه وسلم فرمایي: که څوک خپل ورور ته په اوسپینه (توره، تمانچه، ټوپک، چاقو، برچه وغیره ) باندې – د مرګ – اشاره وکړي نو تر هغه پرې ملائک لعنت وایي چې پرېښې یې نه وي، که څه یې هم مشار الیه انسان د خپل پلار او مور څوی ولې نه وي.

۳۷ - : څوک چې حرام حلالوي او یا ورته څه شی حلال کړی شي:

عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَعَنَ اللَّهُ الْمُحَلِّلَ، وَالْمُحَلَّلَ لَهُ ] ( سنن أبي داود: ۲۰۷۶ ).

ژباړه: له علي رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: - په حیله باندې – حلالونکي او د چا لپاره چې حلاله کیږي الله پرې لعنت ویلی دی.

۳۸ – : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ، وَشَارِبَهَا، وَسَاقِيَهَا، وَبَائِعَهَا، وَمُبْتَاعَهَا، وَعَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، وَحَامِلَهَا، وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ ] ( سنن أبي داود: ۳۶۷۴ ).
ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: په شرابو، په شرابخور، ساقي – شراب ورکونکی - ، د شرابو خرڅونکی او اخستونکی، د شرابو جوړونکی او د چا لپاره چې جوړیږي، شرابو وړونکی او د چا لپاره چې وړل کیږي په ټول دې د الله لعنت وي.

۳۹ - : رشوت خور لعنتي وي:
عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي ] ( سنن ابن ماجه: ۲۳۱۳ ).
ژباړه: عبدالله بن عمرو رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: په رشوت خور او رشوت ورکونکي دې د الله پاک لعنت وي.

۴۰ - : مخ او کالي شکونکي او د مصيبت په مهال د هلاکت نعرې سورې:
عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَعَنَ الْخَامِشَةَ وَجْهَهَا، وَالشَّاقَّةَ جَيْبَهَا، وَالدَّاعِيَةَ بِالْوَيْلِ وَالثُّبُورِ ] ( سنن ابن ماجه: ۱۵۸۵ ).
ژباړه: له ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغې ښځه لعنت ويلی دی چې مخ راشکوي، کالي – جامې – شکوي – او د هلاکت او بربادی نعرې سورې وهي.

۴۱ - : له شا اړخه ښځې ته راتګ:
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَلْعُونٌ مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا ] ( سنن أبي داود: ۲۱۶۲ ).
ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هغه څوک لعنتي دی چې خپلې ښځې ته د شا طرف نه راشي.

۴۱ - : مديني والا باندې ظلم کول او يا يې ويرول:
وَعَنْ السَّائِبِ بن خَلادٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أنه قال:[ اللَّهُمَّ مَنْ ظَلَمَ أَهْلَ الْمَدِينَةِ وَأَخَافَهُمْ فَأَخِفْهُ ، وَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ، لَا يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا] ( صحيح الترغيب والترهيب: ۱۲۱۴ ).

لاربښود کتابتون

ژباړه: له سائب بن خلاد رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ای الله! که هر څوک په مدينې والا باندې ظلم زياتی وکړي او يا يې ويروي نو ته يې ويروه، او په هغه دې د الله پاک او د ټولو ملائکو او خلکو لعنتونه وي، الله پاک به ورځخه نفلي او فرضي عبادت قبول نه کړي.

۴۲ - : له حيوان سره بد فعلي کول:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :[ مَلْعُونٌ مَنْ وَقَعَ عَلَى بَهِيْمَةٍ ] صحيح الجامع الصغير: 5891).

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هغه څوک لعنتي دی چې له حيوان سره بد فعلي وکړي.

43 - : ړوند ته غلطه لاره ښودونکی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : [ مَلْعُونٌ مَنْ كَمَهَ أَعْمَى عَنْ طَرِيقٍ ] ( مسند أحمد: ۱۸۷۵ ).

ژباړه: له عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هغه څوک لعنتي دی ړوند له لارې خطا کړي.

۴۴ - : هغه ښځې مقبرو ته په کثرت سره ځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُورِ ] ( سنن الترمذي: ١٠٥۶ ).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغو ښځو لعنت ويلى دى چې په كثرت سره د مقبرو زيارت كوي.

۴۵ - : صحابه كرامو ته كنځلمار لعنتي دى:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ سَبَّ أَصْحَابِي فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ، وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ] ( المعجم الكبير: (12709

ژباړه: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: كه څوک زما صحابه كرامو ته كنځلې وكړي نو په هغوى دې د الله پاک او د ټول ملائكو او خلكو لعنتونه وي.

لاربښود كتابتون

هيواد والو د ديني پوهاوى باورې سرچينه

Www.larkhud.com